مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدسمیع صادق

۲۰۲۶/۰۱/۳۱

# ښترا

## قصه په سلو ټکو کې

خپل جل دومره راباندي ګران وو چي غوښتل مي د مرغيو ژبه زده کړم، پوه سم په دې خوږو سندرو کې دی څه وايي.

رېز ئې دومره خوږ دئ، بيان يې څومره ښکلی وي.

مور ته مي چوغکه پرېښوده چي خپل يوازني زوی غوندي يې نازوي تر څو بيرته زه راځم. په ځنګله کې د بزرګ ښکاري شاګرد سوم.

ورځي، هفتې، مياشتي وروسته ستون سوم، د جل ژبه مي زده کړې وه.

د کور در ته نژدې سوم، د جل له سينې زما د خوښي آهنګ اورېدل کېدی، تم سوم، په قفس کې جل ځان ته د مرګ ښترا کوله.

محمدسمیع صادق



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ